# زما د زه خبرې

Ketabton.com

ليکوال : محمدالله تبسم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

هغوئ ته! چې تر اوسه يې ښکلا ژوندۍ ساتلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جنسي بې لاري

ليکوال: محمدالله تبسم

په اوسني وخت کې د فحاشۍ او جنسي بې لارۍ کوم طوفان چې توله نړۍ په مخه اخېستې اوس زمونږ تر دوازو نه بلکې له يوې نه يوې لارې زمونږ کوروڼو ته هم د داخېليدو په حال کې دی. تلويزون، ډش، انټرنيټ او نور د اخلاقو ماتوونکې چاپي ميډياګانو په ذريعه زمونږ ځوان نسل چې په کوم انداز د هغوی د اثر لاندې راځي . نو داسې انګېرنه به بې ځايه نه وي. چې مونږ هم د غرب د ژوند تيرولو د اصولو په لور په تيزۍ سره روان يو. ډير داسې واقعي اوس هم شته چې مونږ يې بايد په جدي توګه مخه ونيسو او لا ابتدايي دي که مو مخه ونه نيوله نو بيا به زمونږ مخه ونيسي.ډير داسې واقعيتونه شته ورته د شک په سترګه کتل په کار دي.

څه وخت مخکې د کابل ښځو مظاهره کړې وه چې د سړک د غاړې هلکان دوی ته مزاحمت کوي. او دوی ترې په عذاب دي. ددوی دا لاريون پر ځای! خو د فکر نقطه دا ده چې دا هلکان په کوم احساس د دوی مزاحمت کوي. داسې خو به نه وي چې ښځو لوڅ ته ورته لباس په تن کړی وي چې هلکان د جنسي غلامۍ له مخې مجبوريږي چې ددې عمل مرتکب شي.

زمونږ په ټولنه کې هغه لباس چې ګيبي پرتوګ او ګول قميص به د ښځو پر تن وو اوس کم ليدل کيږي.

او نارينه ته ورته يا په اصطلاح د پنجابيو کاليو په تن کول اوس رواج شوي. چې دا له هغو پخوانيو نه ډير جنسيت راپاروونکي دي.
بله دا چې په دومره لږه موده کې څنګه هغه هيواد چې يوه لسيزه مخکې يې کيبلي تيليفون نه درلود او اوس يې ۹۰ په سلو کې ښځې او نر موبايل او نټيليفون استعمالوي. ايا په دې دومره کميت سره ټيکنالوجکې سهولت راوړل خوبه د بل چا له اثره نه وي.

ليدلي به مو وي چې په تلويزون کې د شهرک او د بانک اعلان راته يوه لوڅ ته ورته لباس په تن ښځه کوي. يا زمونږ په تجارتمارکټينګ کې ښځه اول انتخاب ده. چې دا هم زمونږ په اقتصادي نړۍ کې يو غربي اصل دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

امریکا او اکثره اروپایي هیوادونه د همدې جنسي بې لارې له وجې د ډیرو اخلاقي ستونزو لکه د زبردستي جنسي تیري، بلا وجه طلاق،د خانداني نظام د تباهۍ ، او جنسي مرضونو بالخصوص ایډز سره مخامخ دي.ایا زمونږ ټولنه هم غواړي چې له داسې ستونزو سره مخ شي؟ دا او دارنګه نور سوالونه فکرمندان خفه کړي او سوچ ته یې مجبوره کړي. امریکې او د اروپایي او یا د بین الملل له خوا مختلفې غیر دولتي اداري غواړي چې مونږ هم په هماغه رنګ کې رنګکړي په کوم رنګ چې دوی رنګ شول..د اکثره دیموکراتیک فکره یا سیکولر فکره لیکوالانو په لیکنو یا رسنیو کې ګورو چې د غرب نعره (ازادي). دا هغه ازادي ده چې هغې ته ټوله مهذبه دنیا ازادي وایي.؛



ددې ازادۍ مطلب دا هم دی چې د یو چا ځوان زوی یا پیغله لور دې په خپله خوښه بې د مور او پلار له خوښې بې د واده خپله جوړه انتخاب کړي . حتی که ناجایز اولاد هم پیدا کړي نو مور او پلار ترې د پوښتنې حق نه لري. چې همدا لړی زمونږ هیواد ته هم اوس په یوه ابتدایي شکل رانونتې ده. ډیر به مو اوریدلي وي چې یوې پیغلې د خپلې خوښ هلک سره یو ځای ته د نه پریښودو له وجې ځان ته اور واچواه.

اتلسمه صدې د اروپایي ښځې لپاره خوصاً او د تولې نړۍ د ښځو لپاره عموماً یوه داسې بد قسمته صدي ثابته شوې چې د هغې صدې له مصیبتونو نه تر اوسه انسانیت په عذاب کې دی. او لا معلومه نه ده چې تر کومه وخته به ددې غلط اثر سره مخامخ وي.

د ۱۷۶۰ عیسوي په لسیزه کې د صنعتي انقلاب دشروع کېدو له وجې چې د کلو او بانډو نه د ښارونو په طرف د ابادې لړۍ د تیزو په وجه خو د ارپایي هیوادونو لوی لوی ښارونه اباد شول لیکن په نتیجه کې اروپایي ښځه او د ټولنیز ژوند وجود ټوټې ټوټې شو. له هغې نه وروسته د اول لوی جنګ او دوهم لوی جنګ له وجې د ښځې او نر په تناسب کې یو داسې تفاوت پیدا شو چې د هغې په وجې د جنسي او صنفي یو نوی طوفان را ولاړ شو. ښځو ته به د خپل خاندان د وجود د ساتلو لپاره د ډیرې لږې معاوضې په ورکولو سره د ډیرې اوږدې مودې لپاره کار کول وو. سرمایه دار یوازې د هغې د محنت په لاسته راوړه بسنه ونه کړه بلکه د هغې د عزت او عصمت سودا یې هم وکړه.

ښځه چې له کوره ووته نو د نړی تقاضاوې مختلفې شوی. اوس د هغې په وړاندې دوه لارې وې. یوه دا چې بیرته کورته راستنه شي.لیکن په دې صورت بیا هغې د سهولیاتو نه ځان محروم احساسوه. دوهمه لاره بیا بالکل ددې ضد لاره وه. چې هغه دی له سړي سره د مسابقوي اصولو په نظر کې نیولو سره خپل ښځینتوب ته خدای پامني وواي او خپل شرم او حیا دې په تاخچه کې کیږدي او د سړی د هوس ښکار دې شي. دغې لارې ښځه بیا هاغه حالت ته ویوړه چې هلته بیا ښځه مور .خور، میرمن، او لور پاتې نه شوه. لیکن د سړي جنسي کشمکش او دعوت نمونه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

.په دغه وخت کې د ښځې په ذهن کې یوه سوچ یو رد عمل پیدا کړ. چې په ورو ورو په مخته تګ سره په احتجاجي مظاهرو، جلسو او د اشتهاري اعلاتانو په مټ یې دومره طاقت پیدا کړ چې په نتیجه کې ښځو او سړیو ته د برابرې معاوضې حق ورکړل شو.



که خبره همدلته دریدله نوبیا هم ښه راتله. ښځه چې د کور نه ووتله د کار او د معاوضې حق یې تسلیم کړ او په هره سطحه کې ورته برابري ورکړل شوه. نو بالاخره معامله د ښځینه تحریکونو د راپارولو مرحلې ته داخله شوه.

ښځو د واده کولو اداره هم چیلنج کړه. هغوې داسې فکر کاوه چې د واده او خاندان اداره د ښځو د محکومو ساتلو لپاره د سړیو یو سازش وو.

ددې سازش او چل په خلاف جنک داسې ګټل کیدای شي. چې ښځه دې د میرمن او مور کیدلو په لار کې خود مختاره وي . ښځو د جنس د قطري تقاضو د تسکین لپاره د واده حدود له سره رد کړل. او یوه نوې نعره یې اوچته شوه. چې د ښځې جسم د هغې خپل ملکیت دی. چې په هغې باندې د بل هیچا اختیار نشته.

د سړیو لپاره دا کار خوشحاله کوونکې وو. ښځه او سړي دواړه په خپلو ګمانونو کې مطمینه وو. لیکن ددی څومره غلط اثر چې په ښځو او انسانیت وغورځید. تر اوسه لا ورته انساني شعور حیران دی.
په اتلسمه صدۍ کې چې د کلیسا او ساینس تر منځ کوم جنګ وشو په هغې کې د کلیسا غیر عقلي او غیر منطقي عمل له وجې د اروپا ټولنیز ژوند او باالاخره د ریاست د دایرې نه بالکل جدا شوه. د فرانسې انقلاب او مارتن لو تر په ذریعه الحادي نظام ته د ځان ځایولو موقعه په لاس ورغله.

او همدا وه چې کلیسا خپله خپل ځان تر خپلو څلورو دیوالونو محدود کړ. او نور له همدې وجې یورپي الحادیانو د اسلام په شمول ټول مذهبونه د خدای او د انسان تر منځ د یوې شخصي رابطې په شکل د محدوولو هڅې شروع کړې. چې له وجې د موجودې زمانې بعضې ضعیف الایمان مسلمانان هم ددې تصور قایل شول او د همدې بدې نتیجې له وجې سیکولر نظام رامنځته او اوس اسلامي نړۍ د تباهۍ خوا ته روانه ده.

په اوسني وخت ک د ښځې عزت او احترام د بایللو په وجه ښځه د سړیو د لاس د جنسي شهوت او لذت د حصول یوه ذریعه جوړه شوې. د اروپا او امریکا او د هندوستان د لوڅو فلمونوصنعت د همدې خبرې محکم دلیل دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په انساني ژوند کې د جنسیت اهمیت:



د جنسیت موضوع د انسان په فردي او ټولنیز دواړو اړخونو اثر کوونکې ده .دا یوه داسې موضوع ده چې ددې حدونه د اخلاقو، تمدن او کلتور سره لګیږي. او د قانون نه علاوه ټولنیز اداب هم ترې متاثره کیږي.

اوس هم چې کوم د جنسي بې لارې اور زموږطرفته رانږدې شوی که یې مخه ونه نیسو نو کیدای شي چې یوه ورځ د هماغو مهلکو غیر اخلاقي او غیر انساني ستونزو مخامخ شو چې اروپایي نړۍ ترې د تیښتې لاره لټوي.

د انساني تاریخ نه دا سبق اخلو چې کله او په کوم ځای کې جنسیت دومره عام شوی لکه څنګه چې په امریکا او یا په نورو غربي ملکونو کې دی. نو بې له شکه بیا هغې ټولنې او قوم ته د ستونزو یو لوی غر مخامخ شوی. د یونان، روم، هندوستان، او د پخواني مصر د تمدنونو د له منځه تللو وجه همدا هم وو. ځکه چې په هغوی کې ټولنیز تشکیل ګډوډ، انصاف کم، او جنسیت بې قیضې شوي وو.
په اسلام کې د انسان جسماني، روحاني، عقلي او جذباتي احساساتو ټول ضروریات په نظر کې نیول شوي. قران کریم د ژوند هیڅ داسې کوم اړخ نه دی پریښي چې هغه دې د انساني ژوند د کامیابۍ په خاطر ضروري نه وي. الله ج انسان ته د صحت او ځوانۍ ترڅنګه د جنسیت داعیه هم ورکړې ده. نو ددې داعیې ختمول یا ناجایزه استعمالول د الهي احکامو سر غړاوی دی . د اسلامي احکاتو ډیر داسې دنیاوي کارونه که د الله ج د احکامو مطابق وشي نو د ثواب باعث هم کرځي او په دنیاوي لړ کې هم کامیاب وي. حتی تردې چې د میرمن او میړه ملاسته کې هم یو ثواب نغښتې دي.

زه وایم که همدا د جنسی بې لارې لړۍ همداسې روانه وي او زموږ ځوان نسل همداسې په تیزۍ سره ترې اثر انداز کیږي. نو لرې نه ده چې یو وخت دې زموږ ټولنه هم د سعود پر ځای د نزول خوا ته روانه شي. او بیا به یې د مخنیوي لپاره لاس تر زنې ناست یو .



(c) ketabton.com: The Digital Library

# ځان وژنه ( خودکشي )



ليکوال: محمدالله تبسم

تا که له ښکلا راکې پو کړی ژوند
ما دژوند په بيه دی ساتلی ژوند
تبسم

د زمکې په دې کره کې له انسانه نه واخله او بيا تر هر ژوندي ساه کښ يا په اصطلاح ذی روح شي يو ځل ژوند کړی. او چې ژوند يې ختم شوی دی بيا دلته نه دی راغلی. زما دا خبر دی دا معنی ونه لري چې ختميدل د مطلق ختميدلو او له منځه تللو په معنی ده. به مختلفو اديانوکې د بيا ژوند خبره شوې ده او مونږ مسلمان له دې ژونده وروسته د برزخ او بيا د اخرت په ژوند عقيده لرو.

خو زما دغه خبر صرف د فزيکي دنيا تر حده محدوده ده. او ددې ځای په اړه خبره کوم. انسان له اول نه تر اوسه ژوند سره مينه کړی د ژوند د ښکلي کيدو په اړه يې هميشه فکر کړی او که په تولو کې ووايو د انسان د هرې هڅې تر شا همدا انګيزه وي چې ژوند يې ارام او دوام پيدا کړي.

او مونږ او له مونږ نه مخکينی انسان د ژوند دبې کچې مينې شاهدان يو. خو کله داسې وشي چې بعضې انسانان په خپل لاس ژوند ته دپای ټکی کيښودل او د ژوند سفر په خپل لاس ختمول غواړي او يايې ختم کړي او د خپل ځان د وژنې فکر کوي او يا غواړي ځان ووژني. لا تر اوسه هيڅ کوم مذهب او عقيدې او د هيڅ تولنيزو اخلاقياتو دې کاته جواز نه دی ورکړی او تولو په يوه خوله ښه کار نه دی ګڼلی.

او ځان وژونکی انسان يې يو ناکام او ګنهکار او ...... بللی. له فکر کوونکو انسانانو سره دا سوال پيدا شوی چې ولې؟ څنګه ؟ او ددې مخنيوی څنګه ؟ د Suicide ټکی مو ډير اوريدلی. دا ټکی په لومړي ځل په عيسوي۱۷۳۷ کې د غربي دنيا په فرانسه هيواد کې د دفونتن په نوم د يوه کس له خوا وکارول شو. او بيا دا اصطلاح ۲۵ کاله وروسته د فرانسې د علومو اکاډمۍ له لوري ومنل شوه او وکارول شوه.

او د همدې هيواد د لغات نامې يو لفظ شو. دا ټکی د لاتيني ژبې له دوو ټکو نه چې sui يعنی زه او يا ځان او cide يې هم د وژلو په معنی دی. د خودکشی په هکله چې تر اوسه د روانشناسانو له خوا کوم څه وويل شوي دي تقريبا ټول منلی خبره يې داده

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې (خودکشي ځان ته د زيان رسولو او وژلو اګاهانه عمل دی او د ضرورت مندو انسانانو له خوا د هغه ضرورت د لاسته راوړلو او يا د نا اميدی لپاره يې دا يوه حل لاري ګڼي. ) ورکيم چې په ځان وژنه يې يو اثر هم ليکلی او فرانسوي پوه دی.
د ځان وژنې په تعريف کې د مستقيمي او غير مستقيمي ځان وژنې اصطلاح ګانې اضافه کړي دی. دی وايي چې يو کس دی چې يو هغه انسانان چې وژونکي توکو سره مستقيم تماس پيدا کوي د مثال په ډول ځان په مرمۍ ولي او ځان وژنه کوي مستقيمه خودکشي ده او بل هغه انسانان دي چې ځان ته چې د وژلو نه بلکې د ځان زوررولو په وجه ځان وژنه کوي.
مثالونه يې لکه يو انسان د يوه خفګان له وجې په هفتو هفتو خوراک نه کوي او وجود يې بې تغذيې پاتې کيږي او بيا ژوند له لاسه ورکوي. يا هم هغه مذهبي ډلی لکه اهل تشيع چې په محرم کې ځان په زنځيرونو وهي او له ځانه وينه تويوي. د هغوئ منظور ځان وژل نه وي خو کله بيا داسې وشي چې د ډيرې وينې د ضايع کيدو له امله ځان له لاسه ورکړي. ورکيم په دې دواړو خودکشيو مستقيمه ځان وژنه له غير مستقيمي قبيح تره ګڼي. همدارنګه ورکيم دا يادونه هم کوي چې د ټولو ځان ووژنکو تر هغې د مخه چې ځان ووژني د هغوئ ذهنيت او کړنې سره مشابه او ورته والی لري.
او دا د دوی له لوری هاغه ضرورت ته چې دوی ترې مايوسه دي اخري او لوی اختار وي. او تقريبا په سلو کې ۷۰ انسان له نورو سره دا خبره شريکوي چې دی غواړي ځان ووژني. د ځان وژنې د عواملو په اړه چې اوسه کومې څيړنې شوي زياتره يې د فرانسې او امريکا هيواد د ملي زده کړو د انستيوت له خوا شوي. نو دا په لاس راغلې چې د هر انسان چې دې کار ته مخه کړې د دری قسمه ضروورياتو يا لاملونو له وجې يې کړی.
۱ : کورنی ضرورت يا لامل ۲: ټولنيز ضرورت يا لامل ۳: جسمي ضرورت يا لامل دا په دې معنی چې تر اوسه انسان کله هغه څه چې غواړي چې کورنۍ کې يې ولري او يا يې له کورنۍ لاسته راوړي.
يا هغه څه چې دی يې په ټولنه کې غواړي ولري او او يا يې له ټولنې لاسته راوړي . نو د هغه ضرورت کې د نيکړتيا او د نه پوره کيدلو په صورت کې مايوسه انسان يا کورنۍ او ټولنه په خپل مرګ اختار کړي او يا هم د دغه ځورونې نه خلاصون لاره مرګ تصور کړي او ځان وژنه وکړي.
د جسمي ضرورت لامل هم همدا رنګه دی چې انسان هغه جسمي ضروريات چې بايد ولري. خو نه يې لري يا ناقص وي اکثره يې بيا په ځان وژنه لاس پورې کړي. دمثال په دول يو انسان له شهواني پلوه کمزوری دی. دی ددی پر ځای چې د درملو لاره چاره اختيار کړي او يا هم د همدې کمزوری سره ژوند مخته يوسي مرګ يې د حل لاره بولي. د څيړنو له مخې تر اوسه يې چې ډيره ځان وژنه شوې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library




جنس: سړیو له ښځو نه زیاته ځان وژنه کړی خو ښځو بیا د سړیو دری برابره د ځان وژنې اقدام کړی خو ځان وژنه نه ده ترسره شوی. عمر: تر ټولو زیاته ځانه وژنه ځوانانو چې عمر یې له ۲۰ نه تر ۳۵ کلونو پورې ده تر سره کړی ده. او همدارنګه د زمکې پر مخ ځان وژنه د ځوانانو د مرګ دریم نمبر لامل هم شمیرل شوی.

مذهب: تر ټولو زیاته ځان وژنه یهودیت مذهب لارویانو او تر ټولو کمه ځان وژنه مسلمانانو کړې ده. مدنی وضعیت: لونډانو تر واده کړو دوه برابره ځان وژنه کړی او بیا هغوی چې د ژوند ملګری یې پریښې او طلاق شوي دي د ګډ ژوند کوونکو پر پرتله څلور چنده زیاته ځان وژنه کړې. نژاد: په توله نړی کې امریکایي سپین پوستو زیاته ځان وژنه کړې ده.

ماحول: په ښار کې استوګنو انسانانو د کلیوالو په پرتله زیاته ځان وژنه کړې له ځان وژنی نه د مخه کړنی او علایم : ۱: خفګان ۲: د صمیمي او عاطفي اړیکو له منځه وړل ۳: مخکې له دې هم په ناکامه ځان وژنه لاس پورې کول ۴: ټولنیزه انزوا. یعنی په لوی لاس ځان له تولنی منزوي کول ۵: زیاته نشه کول ۶: د ځان وژنې په هکله نیغ په نیغه یا پټې خبرې کول

درنښت

وورور مو محمدالله تبسم



(c) ketabton.com: The Digital Library

# بې عقله نرګسيت



لیکوال : محمدالله تبسم

یوه زمانه وه چې ایینه نه وه او انسان د خپل ځان د لیدلو په کوشش کې وو. په همدې تکل کې به یې تر ډیره د خپل سوري په لیدو د خپل ځان لیدل محسوسول. یا به کله د اوبو په غاړه ناست او به اوبو کې به یې خپل ځان ته کتل. هغه وخت ډیر عجیبه وو .په انسان کې نه د ځان غوښتنې درک لګیده او نه د ځان منني.
ویل کیږي چې ایینه ۸۰۰۰ کاله مخکې جوړه شوه. او لیکن د ایینې ذکر د تاریخ په کتابونو کې ۸۳۵ عیسوي شا او خوا کې شوی. بیا په تیرو دریو پیړیو کې ایینه د کور د زینت یوه اله وګرځیده. کله چې انسان خپل ځان په ایینه کې ولیده نو د خپل ځان د مینې په دوکه کې راګیر شو. ان تر دې چې بیا د ځان په هکله ډیرې قیصې په د ځان په هکله له ځانه جوړې کړې. چې له وروسته انسان ته د خپل ځان ښودنې او په ځان د مینې یادګار ترې پاتې شي.
په اکثرو قصو کې لولو چې یو ځوان وو او یا یوه پیغله وه . بې اندازې ښایسته وو او یو ورځ به لاره روان شو چې مخې ته یې سیند راغې او ده چې کله اوبو ته وکتل په اوبو کې یې خپل عکس ولید. او په خپل ځان مین شو. او بیا به هره ورځ د همدې سیند په غاړه ناست وو او خپل عکس ته به یې کتل. او به بعضو قیصو ان لا هغه ځوا یا پیغله د خپل عکس د رانیولو او یا د ښکلولو په تکل ځان به سیند لاهو کړې. او بیا د هاغه د ناستې به ځای د نرګس یا نګرس ګل هم راختلای وي. او همداسې نورې ډیرې قیصې شته.
نفسیات پوه زیګمونډ فرویډ هم ددغه احساس د واضح کولو کوشش کړی. او ددې د معلومولو کوشش یې کړی چې اخر انسان ولې له خپل ځان سره دومره مینه کوي. چې داسې حالت کې مبتلا شي چې بیا هغه ته له خبل ځانه پرته بل هیڅ هم نه ښکاري.

فرویډ انا یا ایګو چې غالبا د هغه خپله یوه اصحلاح ده د واضحولو او به دې لړ کې یې د ځان غوښتنه یا د ځان مینه یا نرګیست به مختلفو دورو او مرحلو تقسیم کړ.
فرویډ ځانه مینه یا ځان غوښتنه یو فطري عمل بللی. چې د همدې له وجې په انسان کې د ځان ساتنې قوه زیاتیږي. او د ځان منني او د ځان سره د مینې له وجې انسان نور انسان خپل ځان طرفته د مایلوې او روابط جوړوي. چې په همدې لړ کې فرویډ د ډیرو وضاحتونو به بنا باندې عشق ، روابط، او جنسیت هم له دې عمل سره په تړاوو کې بولې.
پوهیږو چې د ځوانې په دوره کې ځان ایینې ته ډیر ګوري ځکه چې د خپل ځان تشخیص کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ګوري چې کوم لباس کوم رقم ويښتان او کوم سټايل ورسره ښه ښکاري. همدا شان فرويډ د خپل ځان غوښتنې يا د ځان سره د مينې منفي اړخونه هم څيړلي. چې هغه د خپل ځان سره د بې حده مينې کول د ذهني محکموالي نه شتون او د ډيرو رواني ناروغيو جرړه ګڼي. داسې خلک خو به ښکاره ډير منظم او با ترتيبه ښکاري خو هغه د خپل ګير چارپيره ماحول سره په بې ترتيبه رويه تنګ نظرې او غلط فکر کې مبتلا وي. ځکه چې په ځان بې حده مين انسان ته بيا له خپله ځانه پرته نور حقيقت، منطق او رشتينولي به نظر نه ورځي.
په ۱۹۹۰ عيسوي کال کې نيرو ساينس به دې باره کې نوې لاسته راوړنې راوړې. دمرر نيرو سانيسدان جياکومو ريزولاتي وويل چې ذهن جذبه او عمل او تجربه داسې رامخته کوي څنګه چې ماحول وي. د مثال په ډول که يو بل انسان خاندي نو ورته ليدونکې بې د خندا د وجې له درکولو خاندي. يا د بل انسان د ژړا به ليدلو کيداى شي انسان بې له کومې وجې وژاړي. چې همدغه مرر نيرو د تولنې مزاج هم تعينوي. مثلا که يو سړى د مشکل په وخت کې د ژړا پر ځاى خاندي او نور انسان دې ووينې نو هغوې خو د خپل ذهني امر له مخې ورته خاندى او همداسې کيدلاى شي چې بيا به د غم به وخت کې د تولنې انسانان د ژړا پر ځاى خندا کوي. مثال يې زمونږ سره نزدې د چترال د سيمې کالاش يا کيلاش د ټولنې مزاج دى.

چې مونږ د يوه انسان د مرګ به وخت کې ژاړو او هغوى د مړى په وخت کې کډيږي. د نوو څيړنو له مخې تقريبا د دنيا له هرو لسو نه اته انسانان د نرګسيت مريضان دي خو دا نرګسيت يوه نوى او بدله بڼه خپله کړې. انسان د ځان او د نورو تر منځ د روابطو او يا د نظرونو او د ځان د مهم ښودلو لپاره د نورو اقدارو په شان دا اقدار هم سرچپه ټاکلي. په ۲۰۰۲ عيسوي کال کې ۷۲۰۰ خلکو د مخ عمليات کړى وو چې خبله څهره بدله کړي. د ارايش سامانونه په ټوله نړې کې له نور هر سامانه ډير خرص شوي. او د اقتصاد پوهانو له نظره چې د انسان ضروريات او غوښتنې يې سره بيل کړي اوس د ځان بدلولو او ځان د سره د مينې له وجې دا سامان د انسان دضروورياتو په لست کې راځي.
انسان د نرګسيت له وجې داسې کارونه کوي چې له منفي طرفه ځان ته د نورو انسانانو فکر راړوي.يو څه وخت مخکې مې يو عکس وليده يوه امريکايي هلک به خپل مخ د سپي خوله لګولې وه. يا په اروپايي ټولنه کې هلکان او جينکې د ويستو سره د ښکرو په شان شيان نسبوي. چې دا د نرګسيت يو بدل او نوى قسم راته ښکاره شو چې انسان يې د حيوانيت خوا ته بوولې.

مونږ ګوروچې زمونږ به تولنه يا زمونږ سره په نزدې تولنو کې هم د انسان د ځان سره د مينې له وجې د ښکلا معيارونه هم بدليږي او انسان د نوي طريقو هڅه کوي.زمونږ په تولنه کې سپين ږيري خلک ګيره توروي. يا هغوې چې د عمر له وجې يې ويشته توى شوي وي د سرجرې له لارې ويښته لګوي .په ښاري ټولنو کې هم اکثرو ځوانانو خپل وښته لکه د غوايي د غاړې ويسته يا د چرګ د کرکرې مشابې نيغ درولي وي. يا يې ګيره له لاندې او برې خوا نيمه خريلې او نيمه پرې ايښي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یا په لاس کې ښکړی اچولای وي یا یې به غوږ کې میخکې ټومبلې وي. ښځې او نجونې بیا له هغو لارو چې ټول انسانیت ورته بد ویلي چې د جنسي اخلاقو ماتول دي ځان ته د خلکو نظر جذبوي. اوریدلې مې دي چې په پاکستاني ټولنه کې(ددې الفاظو له ویلو دې ستاسې له مخې حیا وي) د مسالې نه جوړ شوي کوناټې خرصیړي او ښځې هغه ځان ته لکوي. یا هغه د ښځو په طیانو باندې له پاسه لګول شوي سینه بندونه له خپل مقداره غټ یا واړه هم خرصیړي چې شځې ترې د ځان ښودنې په لار کې کار اخلي.



او همداسې ډیر نور شیان چې د ځان مینې او یا ځان غوښتنې له وجې یې دوی مجبور کړي وي چې د خپلې ټولنې مزاج بدل او هاغسې حالت اختیار کړی. چې له نورو مختلف وي. خو دا ډیره لویه خبره ده چې خبرې ډیرې او سر یې یو. اوس انسان د نرګسیت هغه حد ته رسېدلای چې د ایینې حقیقت نه شي برداشت کولای. خو خبره داده چې دا خلک دا هیروي چې ایینې همیشه حقیقت ویلې او له هر څومره بدلون سره بیاهم ایینه ستا د ذهن په لاس کې ده.

خدای دې مریضانو ته شفا ورکړي (امین)



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ادب ضرورت



ليکوال محمدالله تبسم

نن سبا د ادب په هکله يو مهم سوال دا هم دی چې ايا د ادب هغه اهميت چې په تيرو زمانو کې و اوس هم دی او که نه؟ د ځينو په نزد د ادب چې په مخکې زمانو کې څومره اهميت او ضرورت و اوس نشته.

هغوې د دوه فرضيو له مخې په دې نظر دي.يوه دا چې په اوس وخت کې د داسې قوي او اوچت فکر نه شي خپلولای چې هغه دې لوی تخليق وکړای شي.د اوچتو فکرونو توجه اوس د ژوند نورو اړخونو ته اوښتې ده.يعنې د ژوند هغو اړخونو ته چې فکر کيږي چې له ادب نه مهم دي.د مثال په توګه لکه د ساينسي علومو مختلفې څانګې. او يا سياست او طب او داسې نور.

بله فرضيه داده چې په تيرو وختونو کې ادب د مذهب تر څنګ د ژوند د راهنمايۍ وظيفه په غاړه لرله.ليکن د فکر او ساينس له ترقې سره د راهنمايۍ دغه وظيفه نورو فنونو په لاس کې واخيسته نو له همدې وجې په ادب کې د ښه تخليق لارې بندې شوې.

دا دواړه فرضې تقريبا سره نږدې دي. او دواړه ادب د ژوند داسې يو اړخ بولي چې اوسنې انسان يې بديل پيدا کړی.نو له دې وجې دا سوالونه بيا له سره اهم ګرځېدلی چې ادب يعنې څه؟ ايا د ادب بديل شته که نه؟ که يې بديل نه وي نو بيا هيڅ فکر د ژوند دې اړخ ته شاکولای نه شي. نو ضروري ده چې د ژوند او د ادب اړيکه سره روښانه شي.

يو امريکايي فکر چې اوس تقريبا په نړې کې حاکم دی دا دی چې ادب يوه ښه تفريح ده.او کله چې فلم، سينما، راديو او تلويږون منځ ته راغلل نو د ادب نه د خوند اخيستونکو تعداد کم شو. چې دې نظريې بړما په فکر د ادب او د ژوند د هغه کلک تړون د غوڅولو کوشش وکړ. ادب د ژوند د اقدارو د پيژندلو دويم نوم دی. خو انسان دوښمنو او چل بازو د خپلو لوڅو هوسنو د حصول په لار کې هميشه انساني اقدار تر پښو لاندې کړي.او د صنعت د دور د دولت حريصانو د خپلو نورو غلتو افکارو تر څنګ د ادب په باره کې هم د غلط فکر د عامولو کوشش وکړ.چې ادب يوه اوچته تفريح ده او بس. هغوی د ادب بديل فلم سينما راديو او تلويزون وړاندې کړل. او له دې سره يې کوشش وکړ چې دا قدر هم تر پښو لاندې کړې. ژوند يوه مسلسله هڅه ده.او ددې هڅې په مخ کې هر منفي عمل سره له هر څومره طاقته دا هڅه نه شي ودرولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همداسې ژوند ادب ته هم هڅېري او دا هڅه يې هم نه شي دريدلای.بلکې د ژوند هڅه او د انسان عشق به همیشه د ادب لپاره لاره هواروي. يو فکر لرونکي ذهن دې نتېجې ته په رسېدو کې هيڅ مشکل نه احساسوي.چې ادب د تفريح تر څنګ ژوند د راهنمايۍ وظيفه اوس هم په غاړه لري.ادب د ژوند په لوړه او ژوره يو شان دی.

ادب د ژوند معنويت او د وحدت شعور جوړوي. په اصل کې ادب دی چې د ژوند د ټولنيز کيدو شعر وايي. او ژوند له شيندلو منعه کوي. د ژوند د نورو اړخونو خبره څه نوې نه ده. ژوند يو دی خو اړخونه يې له اوله ډېر وو. د نورو اړخونو يې خپل اهميت دی. د ساينسي علومو ترقي چې څومره مخکې ځي همدومره نور زياتوالې يې په ارمان بدليږي.

ليکن د ژوند هيڅ اړخ د ادب تشه نه شي ډکولای. په ادب کې انسان ته د بې شمېره خوبونو د تعبيرولو چل په نظر ورځي. چې زمونږ د دور انسان د پخواني په لارښوونه خپل يو څه خوبونه تعبير کړل. او ډېر يې لا بې تعبيره پاتې دي. کله چې انسان د خوبونو د تعبيرولو په تکل کې ووځي نو د ژوند ډېرو نوو اړخونو ته پيپام کيږي. او انسان د ژوند په نوي ضروورياتو پوهيږي. چې دلته ادب له نورو اړخونو سره خپله رشته ثابتوي. انسان چې تر څو خوبونه ګوري او د هغې د تعبير کوشش کوي. نوې لارې به ورته خلاصيږي. او ان تر دې چې انسان به بيا د خوب نه ليدل د ژوند اخر بولي. ځکه به انسان تر اخره خوبونه ګوري او ت اخره به يې د تعبيرولو تکل کوي. چې دا خوب ليدل به تفريح نه بلکې ضرورت وي. ځکه چې ددې خوبونو تعبيرانسان ته نوی فکر ورکوي. او نوې فکر د انسان د ژوند دنوي کولو او مخکې تللو سبب ګرځي. نو په همدې بانه به ژوند تر اخره د خپل خوب د تعبير لپاره ادب نازوي. چې د ادب نه د فکر اخيستنې له وجې د ژوند په نورو اړخونو کې مخکې ځيژوند بيا د ټولنيزو او سياسي بحرانونو حل پيدا کولای شي. که فکر وکړو نو پوهېږو چې د انساني کيفياتو له يوې لويې دنيا سره د ادب اړيکه ده. چې هماغو کېفياتو خارجي کاينات احاطه کړي دي. چې هغه کېفيات يواځې د ادب له خولې انسان اورېدلای شي. او تر کومه ځايه چې د ادب د راهنمايۍ خبره ده.

نو له د حقيقي رهبرۍ لپاره ادب او مذهب کار کړی دی. انسان دوښمنه فکرونه د دولت او واک لاسته راوړلو په مرض باندې اخته دي. لېکن د برټرنډرسل په مرګ چې د دنيا د نسانانو کوم احساس وو. هغه احساسات د يوه عظيم سياست دان په مرګ ناممکن دي. رسل د ادب او فلسفې نماينده وو. په اوسنې دنيا کې د اين سټاين د اهميت منونکي او د رسل د اهمت منونکو کې ډېر فرق دی. بله دا چې انګريزي ټولنه د شکسپيير د قومي وجود نه بغېر د هغه اهميت ته قايله ده. دا ځکه چې تمدنونو د اولو حدودو د ټاکلو راهنمايي ادب کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادب د انسان هغه باطن دی چې د کایناتو له هر شي سره یې رابطه ساتلې ده. او د هغې په مفهوم یې انسان پوهه کړی.

دا نو بیا د انسان نیمګړتیا ده چې خپل ځان ته یې هغه اقدار غوره کړي چې کوم د اهمیت وړنه دي. انسان دوښمنو په لوی لاس د انساني وجود د زخمي کولو لپاره ادب ته ضربه ورکړې ده. کنه نو دا سوالونه به څوک جواب کړي. چې ایا په ایینده به انسان د جذبې نړۍ ورانه شي؟ انسان به له حسنه متاثر کېدل پریږدي. او له ژونده به په مخ اړولو سره د ژوند د ښه کولو هڅه په ځای پاتې شی.

که داسې کېدل نا ممکن دي نو بیا لړ عالمانو غوښتنه ده چې د ادب په باره کې نتیجه داسې ترتیب کړي چې له صطحي واقعیتونو سره نه بلکې د ژوند له بنیادونو سره اړیکه ولري. چې د فکر نتیجې مثبتې شي. زمونږ د ټولنې ډیر انسانان چې د ژوند په نورو اړخونو کې کار کوي. او ادب ته د حقارت په سترګه ګوري افسوس چې خپل ماشوم نظر ورته بالغ ښکاري. خپل هم څه نه کوي او غواړي ادب ته هم څه ونه شي.

نو ځکه د ادب تخلیق کارانو او مخکې بوونکو نه هیله کووم چې دا هڅه مخکې بوځي. او واړه او کم نظرونو باندې د ړاندو ګومان وکړي. انسان په ادبي دنیا کې ډېر خوشحاله وي زما په نظر خو ادب د انساني کیفیاتو سره مترادف دی او همدا ژبه ده چې له اوله تر اوسه انسان د ژوندد کشمکش د بیان لپاره کارولې ده.

د قومیت احساس په ډلو د وېشلو له وجې انسان خفه کړی.سرمایه دارۍ انسان نه د بل انسان غلام جوړکړي. ساینس انسان ته د ارامۍ تر څنګ بم هم په لاس کې ورکړی. چې دې ټولو د اوسنۍ دنیا له سلو انسانانو د اویاوو انسانانو نه ذهني سکون اخیسې.او بېچاره یې په مانۍ کې لاس تر زنې کښېنولای. خو ادب دی چې انسان ته یې د سرور او توانایۍ نه د ډک ژوند د تېرولو حوصله ورکړی. نو له دې وجې د انساني ژوند له مهمو ضرورتونو نه یو مهم ضرورت ادب هم دی. خو تخلیق کار انساني او ربښتونی ادب.

زښته ډیره مننه



(c) ketabton.com: The Digital Library

# حدود او انسان

ليکوال : محمد الله تبسم



انسان، انسانيت، اشرف المخلوقات، ترقي، انساني اقدار، سکون ، امن دا هغه ټکي دي چې په اوسني وخت کې تر ټولو زيات اورو. خو سوال دادې چې ايا خپله ددې لفظونو ويونکی انسان ددې لفاظو په معنی مفهوم او شتون يا نه شتون باندې سوچ کړی دی. له مشرق نه تر مغربه نني انسان په بد امنی په بې سکونۍ او په انساني اقدارو د ريشخند وهلو په اخري حد کې ولاړدی.

انسان داسې حالت ته ځان نه کړی چې د عزت او بې عزتۍ د کاميابۍ او ناکامۍ د خوشحالۍ او د غم د اصل او د کم اصل د سالم او ناقص د ښه او بد هغه فطري اقدار او پيژندنې ته يې نوي او سرچپه اصول ټاکلي.

هغوی چې د انسان په هکله يې هميشه د خپلو خولو نه بې له عمله د انسانيت په هکله رمباړې وهلي زه وايم راځې چې لويې خبرې پريږدو او د انسان په هغه بنيادي ضروورياتو باندې سوچ وکړو. نو د عقيدې او د نظريو له حد نه بهر ايا نني انسان انسان دی. ايا انسان ته چې له فطري پلوه کوم څه ضرور دي نني انسان هغه لري؟

ايا د انسانيت د دعويدارانو له دعوو سره چې دوی خپله هم د نني انسان يوه لويه حصه ده انسان د سکون په لټه کې نه مري. او ايا دا زمکه د هغه لپاره د غذاب نه ډکه سياره نه ده.

په مسايلو باندې خبرې ډيرې اسانې وي او نن يې هر څوک کوي. ميډيا اوس هم چې انسان ترې غبريږي د يوه عام انسان کېدو نه بغير د زرو نورو مبهمو مسايلو سوچ ته انسان وتوجه کوي. او هره ورځ د مسايلو د ختمولو پر ځای خپله انسان د مسلو ښکار کوي.

زه د يو عام انسان په توګه دا وايم چې له د نني دور هر انسان د انساني تولنې د خرابولو ذمه وار دی

په دې خو سره پوهيږو چې د لاس، پښو سترګو، غوږونو او نورو په لرلو سره انسان انسان نه دی. ځکه دا ټول اعضا هغوی هم لري چې مونږ ورته حيوانات وايو. او په دې هم سره پوهيږو چې ښه کور ښه موټر ښه کاروبار ډيرې پيسې هم د انسانيت اساسات نه دي.

زه دامنم چې انسان اوس ډير اوږد سفر په دقيقو کې ترسره کولای شی. انسان اوس مريخ او نورو سيارو ته تلونکی دی.

د مريض انسان د جسم تقريبا ټول غړي بدليدلای شي. دنيا د يوه کلي ښه خپله کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکن کوم څوک ددې جواب ورکولای شی چې ولې د نني دور انسان په داسې جرمي فکر کې اخته او د اجرامو مرتکب دی چې خپله د هغې ګناه کوونکې او جرم کوونکې انسان هم ترې شرمیږي او له اخلاقي مزاجه مخالفت ورته ښکاري.

ولې انسان داسې حالت ته ننوتی چې د تلویزون په صفحه موسیقي او ترې په لاندې کرخه کې د انسان د مرګ خبر خپریږي.رپوټونه ګورو چې د ډنمارک انسان ته دولت له مجبورۍ د حیواناتو سره د جنسي اړیکو قانوني محلونه جوړ کړي.رپوټونه لولو چې د امریکا په انساني ټولنه کې زبردستي جنسي اړیکې له سګرټو څښولو نه عامې دي.ویډیو ګانې ګورو چې د پاکستان انسان له مړو جسدونو سره زنا کوي.خبر ګورو چې د افغانستان انسان خپل پلار وژني.

لنډه دا چې داسې داسې جرمونه چې ددې ساینس او ټکنالوجې په دور کې انسان کوي چې د ټولې زمکې انسانیت ته بد ښکاري.زه هغو ته وایم چې په انسان د حدودو مخالفین دي. تاسې یاست چې انسان مو داسې تیارې ته ور روان کړی.د نړی د هر ګوټ انسان د انساني کرامت له مخې بعضې اخلاقي ارزښتونو ته قایل دی.ولې په لوی لاس د انسان د خوښې ارزښتونه له منځه وړئ.
که چېرې دود د انسان لپاره انسان په خپله نه غوښتل نو بیابه د دنیا هیڅ انسان د قانون او د عسکر په جوړولو فکر نه وی کړی.صرف په خوله د انسانیت رمباړې وهونکي دې د انسان په محدودلو فکر وکړي.

او د حدود چوکاټ ته دې د داخلېدو لپاره وهڅوي.

د محدود خوشحاله او مطمین انسان په هیله.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# ویره

لیکوال : محمدالله تبسم



مونږ ډیر ځله په خپل ژوند کي ویره حس کړي او حسوو. چي کله دا ویره د لنډ وخت لپاره او کله هم تر ډیره زمونږ په ذهن کي پاتي وي. او مونږ کړوي. زهن ته د ویري راتګ ډېر زر او ګړندی وي ولي د وېري له منځه وړل بیا وخت ، صبر او حوصله غواړي. د وېري بلا شپه او ورځ مونږ ته په ډېر ظالمانه ډول ازار راکوي. تر دي چي ډېر کله مو ان له ژوند نه هم ستړي او لاس په سر کړي. ایا کله مو د ویري له دي بلا سره خبري کړي. او تري پوښتلي مو دي چي اخر ما کوم جرم کړی چي داسي سزا راکوي؟ ما چي له دي بلا سره خبري وکړي او همداسي پوښتني مي تري وکړي. د وېري له بلا مي وپوښتل چي ولي دي زه رانیولی یم او ما ته ازار راکوي؟ بلا راته په توندہ ژبه وویل دا کومه غم او سزا چي ته یي ګالي همدا ته مقصر یي. او همدا تا زه زیږولي یم او دا اوس چي په کوم شکل یم تا همداسي جوړه کړی یم. زما طبیعت همداسي دی چي څرنګ مي ته تصور کوي. اوس به د لوستونکي سره هم سوال پیدا شوي وي خو دا بلا څنګه ما وزیږوله. له ما سره هم دا فکر پیدا شو چي ما څنګه دا د وېري بلا وزیږوله؟ ما او شاید تاسو هم دا فکر وکړئ چي دا د ویري بلا خو د مصیبت ، خیانت ، قحطی ، فقر ، جنګ ، مریضی او مرګ زیږولي. خو نا !!!

داسي نه ده دا دغو یوه هم نه ده زیږولي. دغه نومونه او له دي نه زرهاوو نور نومونه ډیر واړه او عادي او د سالم فکر لرونکی انسان لپاره همیشه تکراریدونکي نومونه او واقعیتونه دي. چي مونږ یي په هره لحظه کي د واقع کیدو طمعه باید ولرو. زمونږ تر ټولو لوی ظالم دښمن د وېري بلا ده. چي دا زمونږ په خپله زیږولي بلا تر دي توان منده کیږي چي د خدای د شاهکار تخلیق انسان ژوند ورنه اخلي. دا بلا کولی شي چي د خدای دا توانا او قوی مخلوق چي په خپل ځان پوره باور لري او د خدای ج د ورکړل شویو قوتونه نه باید سالمه استفاده وکړي خو دا یي د یوه مړي په شان په زمکه کي ساتلی او ازارولی شي. ما بره وویل چي ما همدا فکر کوه او شاید تاسو هم کړی وي چي مصیبت او خیانت او قحطی ، فقر ، جنګ او یا هم مریضی او مرګ دا ویره زیږولي. خو خبره دا ده چي دا کوم نومونه چي مونږ دا خپله په خپل ځان کي یو بلا ګاني دي چي هر یو یي خپل ته ورته همشکله بلا ګاني زیږوي او د همجنس شکل نه اخوا بله بلا نه شي زیږولی.

مصیبت مصیبت زیږوي، فقر فقر زیږوي. جنګ جنګ زیږوي. خو دوی ویره نه زیږوي ویره ربښتیا هم مونږ زیږوو. که په ځای ددي چي د مصیبت او فقر د جنګ د نسل د ډیریدو او یا ددوی د وژلو فکر وکړو مونږ ددوی په مقابل کي په خپل ذهن کي د ویري بلا زیږوو. چي همدا بلا مو بیا په هر قدم کړوي. عجیبه خبره ده !

(c) ketabton.com: The Digital Library

مونږ د خدای ج د تر ټولو اشرف او توانا مخلوق په توګه د ویرې له بلا نه ځان نشو خلاصولی او دا ډیره عجیبه بیا دا ده چې دا نه منو چې د ویرې همدا مونږ زیږولې او مونږ ورته وجود ورکړی. وېره یوازې زمونږ فکر او اندیښنه ده او بس! د ویرې دا بلا زمونږ د ذهن نه بهر بیا هیڅ وجود نه لري. نور څوک دا طاقت نه لري چې مونږ وډار کړي.



همدا مونږ یو چې خپل ځان خپله ډاروو . نور څوک شاید داسې کارونه وکړي چې زمونږ په ذهن کې ددې بلا د پیدا کولو لپاره زمینه برابره کړي. ولې دا بلا هلته زیږیدلی شي چې مونږ د هغوئ پر وړاندې شکست ومنو او د خپل ذهن ته اجازه ورکړو چې له بهر نه داسې یو شکل او تلقین واخلي چې د وېرې بلا وزیږوي.

هر انسان په خپل ذهن کې دا قوت لري چې هغه څه یې چې خوښیږي ورته راولي او هر هغه څه یې چې نه خوښیږي ورنه لرې کړي. مثلا . زما خوښیږي چې یو پارک ګڼې ونې دي لاندې پکې نرۍ نرۍ لارې تیرې شوي دي. د پسرلي موسم دی. ونې شنې دي. دا پارک ډیر لوی لوی چمنونه لري او زه په دې نریو نریو لارو کې ورو قدم وهم روان یم. دادی د هغه پارک داسې تصویر مې په خپل ذهن ته راوست چې ان ستاسې ذهن ته مې هم انتقال کړ. اوس که زه ووایم چې یو کس دی. به پلاني ځای کې اوسي چې هر سړي سره ښایسته مبایل ګوري ترې پټوي یې. او که نه په زور یې ترې اخلي څو کسان یې په چاړه هم وهلي دي او بیا یې مبایل ترې اخیستی. نو زه باید کوښښ وکړم چې په کومه لاره یوازې او یا بې وخته لاړ نشم ځکه که دا کس راباندې پیښ شي نو ...... وګوره ! د ډار بلا مې وزیږوله. او خپل ذهن کې مې ځای ورکړ. نور نو دا بلا شاید هر سړی ما ته هماغسې وښایي چې د خلکو مبایلونه پټوي. او ما شاید وکړوي. نو اوس چې په پوهه شو چې د وېرې بلا همدا مونږ زیږوو او مونږ ورته په خپل ذهن کې ځای ورکوو. او بیا ترې کړیږو ښه او سالمه خبره دا ده چې هغه شیان چې د ویرې بلا ته زمینه برابروي حتمن باید ورسره احتیاط وکړو . ځان ترې وساتو او که چیرې پکې واقع هم شو نو هغه باید د یو حقیقت او واقع کیدونکي شي په حیث تسلیم او فکر وکړو چې دا واقع شو. او دا ختم شو. خپل ذهن نه د وېرې زیږونکې فابریکه جوړه نه کړو. لکه مخکې مو چې وویل وېره هیڅ کوم خارجي وجود نه لري. که وجود لري نو زمونږ په ذهن زمونږ خود ساخته وجود لري. او همدا مونږ کولی شو چې له منځه یې ویسو.

د ویرې بلا څنګه له منځه ویسو؟ اول خو مو چې په ذهن کې دغه کومه وېره تصور او تجسیم کړې باید له خپل ځان نه په رښتوني توګه ددې په هکله پوښتنه وکړو. ایا دغه مرض، مصیبت ، خیانت، حالت چې زه یې په اړه فکر کوم رښتیا واقع کیدونکی دی؟

ایا زه کولی شم چې ددې مصیبت ، مرض ، خیانت ، او حالت په وړاندې همداسې مطمین پاتې شم ؟ ایا کومه بله لاره هم شته چې دا موضوع ورباندې حل کړم؟ ددې حالت د له منځه وړلو لپاره زه باید څه وکړم؟ یوه خبره باید په پام کې ولرو چې د فکرد حقیقت معادل او مساوي نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې نه ده چې څه مونږ فکر کوو دا دې حقیقت وي. نو کوم د وېرې فکرونه چې زمونږ ذهن ته راځي باید داسې وګڼو لکه وریځې چې خوري شي. کله باران وکړي او کله بې بارانه بیرته ورکې شي. .



درنښت



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**